# دعوت

## مجله علمی تحقیقی

(نشریه دینی -اجتماعی)

سال چهارم، شماره هشتم، بهار ۱۴۰۲ هـ ش / ۱۴۴۴ هـ ق

در این شماره

★ تقابل منافع قدرت‌های بزرگ در سیستم ژئوپلیتیکی افغانستان

★ بررسی علل چالش‌های دره‌ون منطقه‌یي سارک

★ تقدیر د جبر او انکار تر منځ (د قرآن او سنتو په رڼا کې)

★ مقایسه تأثیر سمنت نو و کهنه کارخانه غوری بالای خواص مکانیکی کانکریت

★ تأثیر آزادی اقتصادی بر رشد اقتصادی سنگاپور، طی سال های 2000 تا 2020

Dawat University Official | www.dawat.edu.af | Research@dawat.edu.af - journal@dawat.edu.af | +93 (0) 707 200 232

# تقدیر د جبر او انکار تر منځ

## (د قرآن او سنتو په رڼا کې)

دکتور شیر علی ظریفي
د دعوت پوهنتون رئیس
Zarifi60@yahoo.com

دعــوت
مجله علمی-تحقیقی
سال چهارم، بهار ۱۴۰۲هـ ش
شماره ۸

تاریخ دریافت: ۱۴۰۲/5/1
تاریخ تایید: ۱۴۰۲/5/20

https://dawat.edu.af/dr/scientific-and-research-journal.php

**لنډیز**

په تقدیر ایمان د زړه باور دی، چې الله تعالی ته هر څه له پخوا معلوم دي، او د ده واک په ټولو کایناتو چلیږي، د انسان ښه او بد اعمال د الله تعالی مخلوق دی، انسان چې هر څه کوي، همغه یې تقدیر دی؛ ځکه له تقدیر نه څوک وتلی نه شي. انسان به خپلې اختیاري چارې، خپل مسؤولیت ګڼي، په کړنو کې به ټول تدابیر نیسي، انسان په عملي ډګر کې، په تقدیر نه، بلکې په شریعت مکلف دی، روا او ناروا چارې په شریعت کې بیان شوې، په تقدیر به یوازې باور لري، نور کارونه، هر څوک، په خپله اراده تر سره کوي، او باید له شریعت سره برابر یې تر سره کړي. په تقدیر له ایمان لرلو سره سره به انسان، د خپلو کړنو لپاره پلان جوړوي، لازمه هڅه به کوي، که کامیاب شو، کریډیت یې ده ته رسیږي، او که ناکام شو په خپلو کړنو به له سره نظر کوي، بار بار به د کامیابۍ هڅه کوي؛ د عمل په ډګر کې به له تقدیر سره هیڅ کار نه لري.

**بنسټیزې کلمې:** تقدیر، جبر، اختیار، تکویني اراده، تشریعی اراده.

**Abstract**

Summary: The belief in destiny is a matter of faith, signifying that Allah Almighty possesses foreknowledge of all events, and that the actions, both virtuous and malevolent, of Allah's creation are preordained. A person's destiny is exclusively determined by the divine decree; escape from destiny remains elusive. Nevertheless, humans are endowed with free will and bear responsibility for their deeds. It is their religious duty, rather than fate, that guides their actions. The demarcation between righteousness and transgression is meticulously delineated within religious jurisprudence, compelling individuals to act in strict accordance with these principles. While the belief in fate constitutes a vital facet of an individual's faith, the ultimate outcome of one's endeavors, whether they culminate in success or failure, is contingent upon their actions, rather than fate.

**keyword**: Fate, Determinism, Free Will, Divine Will, Religious Obligation.

**Dawat**
**Academic Journal**

Fourth year,volume
**8** (spring 2023)

Received: 2023-07-23
Accepted: 2023-08-11

https://dawat.edu.af/dr/scientific-and-research-journal.php

**مقدمه**

تقدير کې پابند هي نباتات وجمادات مومن فقط احکام الهی کا هي پابند
علامه اقبال

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين، محمد وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهديه الى يوم الدين و بعد:

په تقدير باندې باور لرل، د ايمان شپږم جز دی، د جبريل په حديث [1] کې رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ د ايمان په هکله فرمايلي: (أن تؤمن بالله، وملائكته، وكتبه، ورسله، واليوم الآخر، وتؤمن بالقدر خيره وشره) [2] چې ته ايمان ولرې په الله، ملايکو، کتابونو، پيغمبرانو، په وروستۍ ورځ او ايمان ولرې په اندازه (قدر) په ښه او بده.

په تقدير ايمان لرل د اسلامي عقيدې شپږم رکن دی، په تقدير باور لرل فرض دي، څوک چې په تقدير باور نه لري؛ ايمان يې نيمګړی دی، په دې مقاله کې کوښښ شوی چې د اهل سنت او جماعت د مسلک په رڼا کې د تقدير څرنګوالی بيان شي او ځينو هغو پوښتنو ته جواب وويل شي چې د مسلمانانو په تصور کې وخت په وخت راګرځي او قناعت ورکونکی جواب ورته نه لري.

په دې مقاله کې کوښښ شوی د قرآن او سنتو په رڼا کې، دې پوښتنو ته جواب وويل شي:

1. تقدير د جبر او انکار تر منځ څنګه دی؟
2. تقدير څه ته وايي؟

---

1- دې حديث ته ځکه د جبريل حديث وايي چې جبريل ـ عليه السلام د سړي په صورت کې راغلی وو، او د صحابه وو– رضی الله عنهم په مخ کې يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د دين په هکله پوښتنې کړې وې؛ تر څو صحابه ورباندې پوه شي.

2- صحيح مسلم، د حديث شمېره: ٨.

3. کله چې ښه او بد دواړه د الله په اراده تر سره کیږي؛ د بنده ونډه، د ده په اعمالو کې څه ده؟

4. بنده ولې په ښو، د اجر او په بدو، د جزا حقدار گرځي؟

5. او د یو مسلمان لپاره، په تقدیر د ایمان پیغام څه شی دی؟

دا څیړنه د لاندې موخو د تر لاسه کولو لپاره تر سره شوې:

1. په تقدیر باندې د باور فرضیت او د تقدیر لغوي او اصطلاحي معنا واضح شي.

2. د تقدیر د برخو په اثبات له قرآن څخه استدلال تر سره شي.

3. د جبریه، قدریه او اهل سنتو د عقایدو تر منځ پرتله وشي.

4. د الله تعالی تکویني او تشریعي اراده معرفي شي او په شرعي نصوصو کې دا دواړه ارادې یو تر بله بیلې کړی شي.

**په تقدیر ایمان لرل فرض دي**

الله تعالی فرمایي: ﴿**إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ**﴾ [القمر: 49] بې شکه موږ هر څه په اندازه پیدا کړي دي.

په بل ځای کې الله تعالی فرمایي:﴿**وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا**﴾ [الفرقان: 2] او الله تعالی هر څه پیدا کړل بیا یې اندازه کړل په اندازه کولو سره.

نو تقدیر په قرآن ثابت او ایمانورباندې لازم دی.

**د تقدیر او قدر معنا**

تقدیر مصدر دی، او اندازه کولو ته وایي.

قدَر د دال په زوَر او قدْر د دال په سکون، دواړه د اسم او مصدر په معنا راځي، د اسم په توگه اندازې ته وایي، د دې شي قدر دومره دی، یعنې اندازه یې دومره ده، او د مصدر په توگه، اندازه کولو ته وایي.

ابن حجر رحمه الله د تقدير د شرعي معنا په هکله وايي: [1] له قدر څخه مراد دا دی چې الله تعالی د څيزونو په اندازو او زمانو د هغو له پيدايښت نه پخوا پوهيده، بيا يې همهغسې پيدا کړل، نو هره پيښه د الله له علم، قدرت او ارادې څخه صادريږي.

**د تقدير برخې**

علما وايي: تقدير څلور برخې لري، او په تقدير ايمان هلته کامل دی، چې په همدې څلورو برخو ايمان راوړل شي [2]

**۱- د الله تعالی علم په هر څه محيط دی:** الله تعالی په څيزونو او د هغوی په کړنو، پخوا له پيدايښته او پخوا له را منځ ته کيدو پوهيده.

الله تعالی فرمايي: ﴿**وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ** ﴾ [البقرة: 231] او پوه شئ چې الله تعالی په هر شي ښه پوهه دی.

**۲- د هر څه تقدير ليکل شوی دی:** الله تعالی هره پيښه، له پيښيدو مخکې، په لوح محفوظ کې ليکلې ده.

الله تعالی فرمايي:﴿**مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا** ﴾ [الحديد: 22] هيڅ مصيبت په ځمکه کې نه دی رسيدلی او نه د تاسو په ځانونو کې، مگر په ليک کې شته پخوا تر دې چې رامنځ ته يې کړو.

همدا راز فرمايي: ﴿**وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ**﴾ [الأنعام: 59] له الله سره ی غيبو کلياني دي، په هغه له ده پرته بل څوک نه پوهيږي، او دی په هر هغه څه چې په وچه او يا سمندر کې دي، پوهيږي، هيڅ پاڼه نه راغورځي مگر الله ورباندې پوهيږي او نه

1- فتح الباري في شرح صحيح البخاري، د ابن حجر تاليف، لومړی ټوک ۱۱۸ مخ.

2- په قدر د ايمان د څلورو برخو په هکله، د امام ابن القيم په کتاب: شفاء العليل کې له 29 مخ څخه تر 65 مخ پورې تفصيلي بحث تر سره شوی دی.

هیڅ دانه د ځمکې په تیارو که شته او نه لامده شته او نه وچ، مګر دا چې په ښکاره کوونکي کتاب کې ثبت دي.

رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـفرمايلي: (کتب الله مقادير الخلائق قبل أن يخلق السماوات والأرض بخمسين ألف سنة) (1) الله تعالی د مخلوقاتو مقادير (اندازې) د اسمانونو او ځمکې له پیدایښت نه پنځوس زره کاله مخکې لیکلې دي.

**۳- د الله تعالی د ارادې مخنیوی نه کیږي:** په کایناتو کې هیڅ شی د الله تعالی له ارادې پرته نه پیښیږي، څه شی چې الله تعالی یې وغواړي، کیږي او چې وېې نه غواړي نه کیږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ [التکویر: 29] او تاسو هیڅ شی نه شی کولی، مګر چې الله تعالی یې وغواړي، څښتن د ټولو مخلوقاتو.

**۴- الله تعالی د هر څه خالق دی:** ټول څیزونه او د هغوی کړنې د الله تعالی پیدایښت دی، الله تعالی انسانان پیدا کړي، او د دوی ښې او بدې چارې هم د الله تعالی خلقت دي، انسان د خپلو کارونو کاسب ګڼل کیږي؛ نه خالق.

الله تعالی فرمايي: ﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ [الزمر: 62] الله تعالی د هر شي خالق دی.

همدا راز فرمايي: {وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ} [الصافات: 96] او الله تاسو پیدا کړي یاست او هغه څه چې تاسو یې کوئ.

**د قدر په اړه بحثونه او شخړې**

د قدر په هکله بحثونه او شخړې د اسلام له ظهور سره یو ځای پیل شوې، په دې هکله خطا شوي خلک په دوو نظریو روان وو: ځینو هر څه د انسان په لاس کې ګڼل د الله تعالی اراده، او پریکړه یې نه منله او ځینو نورو انسان مجبور ګاڼه، هر څه یې الله تعالی ته منسوبول، د انسان مسؤولیت یې د ده په کړنو کې نه مانه، د دواړو ډلو بیان په قرآن کې راغلی:

---

1- صحیح مسلم, د حدیث شمیره: ۲۶۵۳.

**له لومړۍ ډلې** څخه قرآن حکايت کوي: ﴿**وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ نَحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ**﴾ [النحل: 35] او مشرکان وايي: که د الله خوښه وای موږ به له ده پرته د هيڅ شي عبادت نه وای کړی، نه موږ او نه زموږ پلرونو او نه به مو د ده (له امر نه) پرته څه شی حرام ګرځولی وای.

نو دوی په دې وينا مسؤوليت له ځانه اړاوو او ځانونه يې د الله تعالی له خوا مجبور ګڼل، سره له دې چې حقيقت داسې نه دی، هر څوک په خپله خوښه سمه او ناسمه لاره غوره کوي، الله تعالی د دواړو لارو پيروانو ته توان ورکوي او د دوی له غوښتنې سره سم، لارې ورته برابروي.

**د دوهمې ډلې** په هکله د مسلم په حديث کې [1] ابوهريره رضی الله عنه وايي: د قريشو مشرکانو له رسول الله - صلی الله عليه وسلم - سره د قدر په هکله شخړه وکړه، د الله تعالی پريکړه او قدر يې نه مانه، نو دا آيتونه نازل شول: ﴿**يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ، إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ**﴾ هغه ورځ چې دوی به په اور کې په مخونو راښکل کيږي، د دوزخ عذاب وڅکئ، بې شکه موږ هر شی په قَدَر (اندازه) پيدا کړي دي.

په مسلمانانو کې هم د مشرکانو په ډول، دوه ناسمې ډلې رامنځ ته شوې: يوې ته جبريه او بلې ته قدريه وايي.

**جبريه وايي:** انسان په خپلو چارو کې مجبور دی هيڅ اختيار نه لري؛ نو د ده د کارونو، ګومه ګټه او نقصان، ده ته نه راجع کيږي.

**قدريه وايي:** انسان په خپله د خپلو اعمالو خالق دی، الله تعالی بدې چارې نه غواړي، او نه يې خوښوي، خو انسان په خپل سر، د الله تعالی له ارادې پرته، بد کارونه تر سره کوي.

**اهل سنت (جمهور مسلمانان) وايي:** انسان په خپله خوښه سم او ناسم کارونه تر سره کوي، نو مجبور نه دی، او انسان ته د سمو او ناسمو چارو توفيق الله ورکوي، خوښه او

---

1. صحيح مسلم، د حديث شمره: 2656

غوښتنه د انسان ده، او د لارو چارو برابرول او توفیق د الله تعالی له لوري دی، او انسان د خپلو اعمالو کاسب دی، نه خالق.

**مثال:** که معلم صاحب په امتحان کې د سوالونو لپاره، صحیح او غلط جوابونه راوړي، او شاګردان یې په خپله خوښه په سمه یا ناسمه توګه حل کړي، نو هر چا ته ښکاره ده چې معلم صاحب د غلطو جوابونو په جوړولو، بد کار نه دی کړی، او دا هم جوته ده چې هغه زده کوونکي چې سم ځوابونه یې اختیار کړي، هغه به نمرې وړي او چا چې ناسم ځوابونه غوره کړي، هغه به نمرې نه وړي.

همدا ډول الله تعالی د دنیا په امتحان کې وګړو ته ښې او بدې چارې خلق کړې، هغوی ته یې د هغو د تر سره کولو توان ورکړی، هر څوک په خپله خوښه، له جبر او اکراه پرته، سم کارونه کوي، او یا ناسم، د سمو چارو اجر په دنیا او آخرت کې کامیابي ده او د ناسمو چارو جزا په دنیا او آخرت کې ناکامي ده.

**په جبریه وو باندې د قرآن رد**

الله تعالی فرمایي: ﴿**فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى﴿﴾وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى﴿﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى﴿﴾وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى﴿﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى﴿﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى**﴾ [اللیل: 5 – 10] نو هغه څوک چې ورکړه وکړي، تقوا غوره کړي او ښکلې وینا ومني؛ نو د اسانۍ لاره به ورته هواره کړو او هغه څوک چې شومتیا وکړي، ځان (له هدایت نه) بې حاجته وښيي او ښکلې وینا دروغ وګڼي، نو د سختۍ لاره به ورته هواره کړو.

له دې آیت نه ښکاري چې د نیکمرغي او بدبختي لاس ته راوړل د انسان کار دی، او مجبور نه دی، ځکه که مجبور وای، د ده په کړنو به پایلې نه مرتبیدې.

همداراز فرمایي: ﴿**وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا**﴾ [الکهف: 29] او ووایه: حق ستاسو د څښتن له لوري دی، نو د چا چې خوښه وي، ایمان دې راوړي، او د چا چې خوښه وي کافر دې شي، بې شکه موږ ظالمانو ته اور برابر کړی، چې دیوالونه به یې ورنه راتاو وي.

نو د ایمان او کفر د غوره کولو خوښه د انسانانو ده، خو څوک چې ظلم کوي، هغه به اور ته ننوزي.

﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴾ [المدثر: 38] هر نفس, په خپلو کړنو کې ګرو دی.

چې هر نفس په خپل عمل کې ګاڼه دی، نو خو په خپله خوښه یې کړي، ځکه مجبور انسان خو د مکافات او مجازات لایق نه وي.

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ [النحل: 97] چا چې نیک عمل وکړ، که نارینه وي که ښځینه او دی مؤمن هم وي، نو هرو مرو به (په دې دنیا) ښکلی خوندور ژوند او (په آخرت کې) د دوی د ښکلو اعمالو په بدل کې اجر ورکړو [1].

او فرمایي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى ﴾ [طه: 124] او چا چې زما له پند څخه مخ واړاوو؛ نو د ده لپاره به (په دنیا کې) تنګ ژوند وي، او د قیامت په ورځ به یې ړوند راپاڅوو [2].

له دې دوو آیتونو نه جوتیږي چې د انسانانو د دنیا او آخرت نیکمرغي او بد مرغي د دوی په نیک عمل او ایمان او د دوی په اعراض او معصیت مرتبیږي، که دا د دوی د خوښې کار نه وای، نو ثواب او عقاب یې باید دوی ته نه وای ورکړل شوی.

---

1- ابن کثیر یې په تفسیر کې وایي: هذا وعد من الله تعالى لمن عمل صالحا ... بأن يحييه الله حياة طيبة في الدنيا وأن يجزيه بأحسن ما عمله في الدار الآخرة.

2- ابن کثیر یې په تفسیر کې وایي: {ومن أعرض عن ذكري} أي: خالف أمري، وما أنزلته على رسولي، أعرض عنه وتناساه وأخذ من غيره هداه {فإن له معيشة ضنكا} أي: في الدنيا، فلا طمأنينة له، ولا انشراح لصدره، بل صدره ضيق حرج لضلاله، وإن تنعم ظاهره، ولبس ما شاء وأكل ما شاء، وسكن حيث شاء، فإن قلبه ما لم يخلص إلى اليقين والهدى، فهو في قلق وحيرة وشك، فلا يزال في ريبة يتردد. فهذا من ضنك المعيشة.

همداراز فرمايي: ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ [الأعراف: 96] او که د ښارونو اوسيدونکي ايمان راوړي او تقوا اختيار کړي، نو په دوی به له اسمان او ځمکې برکتونه را خوشې کړو، خو دوی (پيغمبران) دروغ وګڼل؛ نو موږ د دوی د تر سره کړو چارو له امله (په عذاب) ونيول.

نو برکتونه او عذابونه د وګړو د عمل نتيجه وي او هيڅ عاقل دا نه مني او نه يې د عدالت قواعد قبلوي چې مجبور انسان ته دې د جبر او اکراه په کار برکتونه او يا عذابونه ورکړل شي.

او فرمايي: ﴿مَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا﴾ [الإسراء: 15] چا چې د هدايت لاره غوره کړه، نو يوازې د ځان لپاره يې غوره کړې او څوک چې بې لارې شو، نو يوازې د ځان په زيان ګمراه کيږي.

**د قدريه وو نظر چې الله تعالى په ناوړه چارو کې هيڅ رول نه لري، بطلان يې واضح دی**

ابن ابی العز حنفي د طحاوي عقيدې شارح په خپل کتاب کې د يو بانډه چي (کوچي) قصه ليکلې چې هغه له يوې ډلې خلکو وپوښتل او په هغو کې عَمْرُو بن عُبَيْد د قدريه وو مشر هم ناست وو: زما اوښه غلا شوې نو له الله نه وغواړئ چې بيرته يې راته راوګرځوي، عَمْرُو بن عُبَيْد وويل: ای الله تا خو نه غوښتل چې د ده اوښه دې غلا شي، خو بيا هم پټه کړی شوه، نو بيرته يې وروګرځوه! کوچي ورته وويل: ستا دعا ته اړ نه يم، وای: ولې؟ وای: ځکه چې ستا له نظره الله نه غوښتل چې غلا شي، بيا هم غلا شوه، نو چې اوس وغواړي چې بيرته راوګرځول شي، بيا به هم نه راګرځول کيږي. (1)

1- وَقَفَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى حَلْقَةٍ فِيهَا فَقَالَ: يَا هَؤُلَاءِ إِنَّ نَاقَتِي سُرِقَتْ فَادْعُوا اللَّهَ أَنْ يَرُدَّهَا عَلَيَّ، فَقَالَ عَمْرُو بْنُ عُبَيْدٍ: اللَّهُمَّ إِنَّكَ لَمْ تُرِدْ أَنْ تُسْرَقَ نَاقَتُهُ فَسُرِقَتْ، فَارْدُدْهَا عَلَيْهِ! فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ: لَا حَاجَةَ لِي فِي دُعَائِكَ! قَالَ: وَلِمَ؟ قَالَ: أَخَافُ -كَمَا أَرَادَ أَنْ لَا تُسْرَقَ فَسُرِقَتْ - أَنْ يُرِيدَ رَدَّهَا فَلَا تُرَدُّ! شرح العقيدة الطحاوية د ابن أبي العز الحنفي تاليف، ۱۶۶ مخ.

**د الله تعالی د ارادې، مشيت، محبت او رضا معنا**

د اسلامی عقايدو د تقدير په باب کې، اراده او مشيت يوه معنا لري، يعنې د يو کار د سرته رسولو هوډ او غوښتنه، محبت او رضا بيا دواړه بله معنا لري، يعنې مينه او ورباندې خوښيدل.

د انسانانو ټول کړه وړه، د الله تعالی په تکويني اراده او مشيت کې داخل دي، که هغه ښه دي او که بد، هيڅوک د الله په بادشاهي کې، له هغه سره معارض او مقابل نشته، چې الله تعالی باندې زورور شي، او د هغه له ارادې او مشيت نه پرته کوم کار تر سره کړي، خو ښه کارونه، الله تعالی خوښوي او پرې راضي هم دی، او بد کارونه، الله تعالی نه خوښوي او ورباندې ناراضه کيږي.

د الله د خپلې ارادې د اثبات په هکله فرمايي: ﴿**وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ**﴾ [البقرة: 253] مګر الله تعالی هغه څه کوي چې اراده يې لري (غواړي يې).

همدا راز د مشيت د عاموالي په هکله فرمايي: ﴿**فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ**﴾ [إبراهيم: 4] نو بې لارې کوي الله هغه څوک چې وېې غواړي، او لاره ښوونه کوي هغه چاه ته چې وېې غواړي.

او فرمايي: ﴿**وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ**﴾ [الإنسان: 30] او تاسو هيڅ هم نه شئ غوښتی مګر چې الله يې وغواړي.

الله تعالی په نيکيو د رضا په هکله فرمايي: ﴿**إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ وَلَا يَرْضَى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ وَإِنْ تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ**﴾ [الزمر: 7] که کفر کوئ نو الله تعالی درنه بې حاجته دی، خو بنده ګانو ته کفر نه خوښوي او که شکر کوئ؛ نو دا يې درته خوښ دی.

او د فساد د نه خوښونې په هکله فرمايي: ﴿**وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ**﴾ [البقرة: 205] او الله له فساد سره مينه نه لري.

**د الله تعالی تکویني او تشریعي اراده**

الله تعالی دوه ډوله ارادې لري: لومړی ـ تکویني اراده، هغه د خلق او ایجاد په معنا ده، له دې ډول ارادې نه د مخالفت امکان نشته، ځکه الله تعالی عزیز او غالب ذات دی، د ده په اراده د هیڅ اراده، غالبه کیدای نه شي.

دوهم ـ د الله تعالی تشریعي اراده، د محبت او رضا متضمنه ده، په دې اراده کې الله تعالی د شرعي حکم اراده لري، چې مخالفت يې کيدلی شي، خو الله تعالی وربانديې ناراضه کيږي.

**په قرآن کریم کې د دواړو یادونه شوې ده:**

﴿**وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِي إِنْ أَرَدْتُ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ إِنْ كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يُغْوِيَكُمْ**﴾ [هود: 34] او زما نصیحت تاسو ته گټه نه رسوي، که زه وغواړم چې نصیحت درته وکړم، که الله تعالی غوښتي وي چې تاسو بې لارې کړي. د دې ارادې مخالفت ناممکن دی، نو دا تکویني اراده ده.

﴿**فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا**﴾ [الأنعام: 125] نو هغه څوک چې الله تعالی يې هدايت وغواړي، سينه يې اسلام ته پراخوي او هغه څوک چې بې لارې يې وغواړي؛ سينه يې تنگه او په تکليف کوي. دا هم تکويني اراده ده، ځکه مخالفت يې د انسان په لاس کې نه دی.

﴿**يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ**﴾ [النساء: 28] الله تعالی غواړي چې په تاسو اساني راولي. دا تشريعي اراده ده، ځکه ځينې خلک د الله د رحمت دين مني او ځينې يې نه مني، الله خو آساني غواړي، خو ځينې خلک د دې آساني مخالفت کوي او ځانونه په حرج کې غورځوي.

﴿**يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ** ﴾ [البقرة: 185] الله تعالی تاسو ته اساني غواړي او سختي درته نه غواړي. دا هم د پاسني آيت په توگه، د الله تعالی تشريعی اراده تمثيلوي.

{وَاللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ } [النساء: 27] او الله تعالی اراده لري چې ستاسو توبه قبوله کړي. خو ځينې وگړي توبه باسي ځينې يې نه باسي، نو مخالفت يې کيږي، پس دا تشريعي اراده ده.

**دوه ډوله پېښې**

هغه پېښې چې د انسان ژوند ورڅخه اغیزمن کیږي، په دوه ډوله دي:

**لومړی هغه چې په مستقیمه توګه د انسان اختیاري اعمال وي**، دا ډول پیښې د انسان په عمل نامه کې لیکل کیږي، که ښه کارونه يې کړي وي، اجر يې ده ته رسیږي او باید نعمت يې وشمیري او وربانديې خوښ شي، او که بد کارونه يې کړي وي، زیان يې ورته رسیږي او باید ګناه يې وشمیري، توبه ورنه وباسي او د جبیره کولو هڅه يې وکړي.

د وګړو ټول طاعتونه او معصیتونه په دې کې شاملیږي.

**دوهم هغه پیښې چې په مستقیمه توګه د انسان په اختیار کې نه وي**، بلکې د انسان له ارادې پورته، اسماني پېښې وي، لکه ټولنیز عام نعمتونه او آفتونه، بارانونه او قحطی، امنیت او نا امنی او داسې نور، دا پیښې هم په غیر مستقیمه توګه د انسان کړنو ته ورګرځي؛ خو د انسان په اختیار کې نه وي، نو دی به يې د الله تعالی قضا او قدر ګڼي او وايي به چې «قدر الله وما شاء فعل» الله تعالی يې پریکړه کړې وه، او چې څه وغواړي همغسې تر سره کوي.

**په قرآن کې لسګونه آیتونه دي چې په دې مطلب دلالت کوي، یو څو ته يې د مثال په توګه اشاره کوو:** ﴿**إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ** ۞ **وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ**﴾ [الانفطار: 13، 14] بې شکه نیکان په نعمت او بدان په اور کې دي.

نیکي او بدي د انسانانو اختیاري اعمال دي او پایله يې په دنیا او آخرت کې دوی ته رسیږي.

﴿**وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ**﴾ [الروم: 36] او کله چې خلکو رحمت وروڅکو نو وربانديې خوښ شي، او که د دوی د عملونو په سبب زیان وررسیږي نو بیا نا امیده کیږي.

نو اسماني آفتونه هم د انسانانو د عمل نتیجه ده.

﴿**وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ**﴾ [الأعراف: 96] او که د ښارونو اوسیدونکي ایمان راوړي او پرهیزګاره شي،

نو مونږ پر دوی له آسمان او ځمکې څخه برکتونه ورپرانیزو، خو دوی (یغمبران) دروغ وګڼل نو موږ د دوی په کړنو ونیول.

دا آیت هم د پورتني آیت په توګه آسماني برکتونه او آفتونه د انسانانو د کړنو پایله ګڼي.

**د تقدیر په هکله یو ریښتینی حکایت**

بخاري او مسلم [1] له عبد الله بن عباس څخه روایت کړي: عمر بن الخطاب د شام په لور وووت، چې د «سرغ» سیمې ته ورسیده، د لښکرو امیران: أبو عبیده بن الجراح او ملګري یې ورسره مخ شول او خبر یې ورکړ چې په شام کې وبا راغلې؛ نو عمر وویل: ما ته پخواني مهاجرین راوبلئ، هغوی یې له پیښې خبر کړل او مشوره یې ورنه وغوښته؛ هغوی سره مختلف شول، ځینو وویل: ته یو کار ته راوتلی یې او باید ورنه ونه ګرځې، ځینو نورو وویل: له تا سره د لښکرو نه راپاته خلک او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - اصحاب دي، موږ دا سمه نه ګڼو چې دوی دې وبا ته وروړاندې کړې.

بیا یې انصار راوغوښتل، هغوی نه یې مشوره وغوښته، دوی هم د مهاجرینو په توګه سره مختلف شول.

بیا یې د قریشو هغه سپین ږیري چې د مکې له فتحې یې وروسته هجرت کړی وو، راوغوښتل؛ هغوی په اتفاق سره ورته وویل: موږ دا نظر لرو چې له خلکو سره بیرته مدینې ته وګرځې او دوی, دې وبا ته وړاندې نکړې.

عمر - رضي الله عنه – خلکو کې غږ وکړ: زه سهار بیرته ګرځم، تاسو هم سهار بیرته وګرځئ. ابو عبیده - رضي الله عنه – ورته وویل: آیا د الله تعالی له قدر نه تښتې؟ عمر وویل: کاش دا خبره له تا پرته بل چا کړې وای ای ابو عبیده! (نعم نفر من قدر الله إلی قدر الله) هو موږ د الله تعالی له قدر څخه, د الله تعالی قدر ته ورتښتو، ووایه که ستا اوښان وای، او په داسې سیمه کې دې ځرولای چې دوه درې یې لرلې، یوه دره یې لمده وای، زیاته ګیا یې

1- صحیح البخاري د حدیث شمیره: 5729 صحیح مسلم، د حدیث شمیره: 2219

لرلی او بله بې وچه بې ګیا وای، که تا په لمده یا وچه کې څرولی؛ نو آیا په دواړو کې به دې د الله تعالی په قدر نه څرولای؟

بیا عبد الرحمن بن عوف - رضي الله عنه - راغی، چې په ځینو کارونو پسې تللی وو، هغه وویل: له ما سره په دې هکله علم دی، له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه مې اوریدلي: په کومه ځمکه کې چې وبا وي، هلته مه ورځئ، او که ستاسو په ځمکه کې وي؛ نو تیښته مه ورنه کوئ.

**په تقدیر د عقیدې پیغام**

په تقدیر باندې عقیده مونږ ته دوه ستر پیغامونه لري:

**لومړی پیغام** د عقیدې په ډګر کې: د الله تعالی علم په هر څه محیط دی او هر څه د ده په تکویني اراده کې شامل دي، په کایناتو کې هیڅ کار له تقدیر نه پرته نه تر سره کیږي.

**دوهم پیغام** د عمل په ډګر کې: انسان په خپلو کړنو کې اختیارمن دی، ښې او بدې چارې په ازادۍ سره تر سره کوي، د الله تعالی تقدیر، دی مجبور نه ګرځوي؛ نو انسان ښې چارې او بدې چارې په خپله خوښه تر سره کوي؛ د ښو چارو ګټه او د بدو چارو ضرر او جزا هرو مرو انسان ته رسیږي.

**د څیړنې پایلې**

1. د څیړنې په پای کې لاندې پایلو ته رسیږو:

2. په تقدیر باندې د باور فرض دی.

3. په تقدیر ایمان په دې باندې باور لرلو ته وایي چې الله تعالی د څیزونو په اندازو او زمانو د هغو له پیدایښت نه پخوا پوهیده، بیا یې همهغسې پیدا کړل، نو هره پیښه د الله له علم، قدرت او ارادې څخه صادریږي.

4. تقدیر څلور برخې لري، په ټولو باور لرل د ایمان د کمال لپاره لازم دی: ۱- د الله تعالی علم په هر څه محیط دی. ۲- د هر څه تقدیر لیکل شوی دی. ۳- د الله تعالی د ارادې مخنیوی نه کیږي. ۴- الله تعالی د هر څه خالق دی.

5. د جبریه وو وینا چې انسان په خپلو چارو کې مجبور دی هیڅ اختیار نه لري؛ او د قدریه وو وینا چې انسان په خپله د خپلو اعمالو خالق دی، الله تعالی بدې چارې نه غواړي، او نه یې خوښوي، خو انسان په خپل سر، د الله تعالی له ارادې پرته، بد کارونه تر سره کوي، دا دواړه نظرونه د دیني نصوصو په رڼا کې باطل دي، سمه خبره همغه ده چې اهل سنت وایي: انسان په خپله خوښه سم او ناسم کارونه تر سره کوي، نو مجبور نه دی، او انسان ته د سمو او ناسمو چارو توفیق الله ورکوي، خوښه او غوښتنه د انسان ده، او د لارو چارو برابرول او توفیق د الله تعالی له لوري دی، او انسان د خپلو اعمالو کاسب دی، نه خالق.

6. د الله تعالی ارده په دوه ډوله ده: - تکویني اراده، ۲- تشریعي اراده، چې په شرعي نصوصو کې باید دواړه ډوله ارادې سره جلا کړل شي او که نه نو په پوهه کې ستونزه جوړوي.

7. د الله تعالی علم او تکویني اراده په هر څه محیطه ده، خو له دې سره سره وګړي په خپلو ټولو اختیاري اعمالو کې اختیارمن او مسؤول دي.

8. تدبیر له تقدیر سره ټکر نه لري.

9. د وګړو ټول کړه وړه، په تقدیر کې د ننه دي.

10. په تقدیر به موږ یوازې باور لرو، تقدیر موږ ته امر او نهی نه صادروي، موږ به له شریعت نه د روا او ناروا احکام اخلو.

11. انسان په اختیاري چارو کې واکمن دی، که هر څه کوي، په خپله خوښه یې کوي.

**مأخذونه**

**قرآن کریم**

1. أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي, فتح الباري شرح صحيح البخاري، طبع دار المعرفة - بيروت، 1379 بترقيم و ترتيب محمد فؤاد عبد الباقي عدد الأجزاء: 13

2. أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: 774 هـ)- تفسير القرآن العظيم المحقق: سامي بن محمد سلامة, طبع دار طيبة للنشر والتوزيع، الطبعة: الثانية 1420 هـ - 1999 م، عدد الأجزاء: 8
3. صدر الدين محمد بن علاء الدين عليّ بن محمد ابن أبي العز الحنفي، الأذرعي الصالحي الدمشقي (المتوفى: 792 هـ)، شرح العقيدة الطحاوية، بتحقيق: جماعة من العلماء، وتخريج: ناصر الدين الألباني الناشر: دار السلام للطباعة والنشر التوزيع والترجمة (عن مطبوعة المكتب الإسلامي)، الطبعة: الطبعة المصرية الأولى، 1426 هـ - 2005 م، عدد الأجزاء: 1
4. محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: 751 هـ)، شفاء العليل في مسائل القضاء والقدر والحكمة والتعليل, طبع دار المعرفة، بيروت، لبنان, سنة الطبع: 1398 هـ/1978 م, عدد الأجزاء: 1
5. محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)، الطبعة: الأولى، 1422 هـ، عدد الأجزاء: 9
6. مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261 هـ) صحيح مسلمالمسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (صحيح مسلم) بتحقيق محمد فؤاد عبد الباقي طبع دار إحياء التراث العربي - بيروت عدد الأجزاء: 5